افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

Political سیاسی

محمد اياز نوري
۲۰۰۹/۰۲/۱۱

# ټولټاکنې؟

## او که د ملت يوې دوديزې جرګې ته رجوع کول...!

کله چې مې دا ليکنه پيل کړه، يو افغان دوست راته وويل: دا مه ليکه، ګټه نه کوي. هغه بل دوست خو نور هم راوړاندې شو او وې ويل: په چټياتو بوخت يې...؟!. خو زه وايم، زما انساني او افغاني احساس ما قرار ته نه پرېږدي، کنه تاسو هم بد نه وياست.

زما د هيواد غميزه چې د فلسطين د قهرمان ملت تر څنګ بله جوړه په دې نا کراره نړۍ کې نلري، نوره د بی تفاوتی له کچه وتلې ده. آخر دومره ظلم او تيری!! آخر ولې؟؟ تر څو ژوندي يم فقط دغه د فبروري د اومې نيټې د زابل ولايت د شهر صفاء د ولسوالۍ د مظلومو وطنوالو کوکې او بوغارې به چې د ناټو د هوايی بمبارد په واسطه په وينو کې لمبديلې، هيرې نه کړم...؟!

نن سبا يې په هيواد کې د ټولټاکنو بازار راتود کړی، آيا دا د افغانستان د ټول ملت غوښتنه او ضرورت دی او که يا هم د بهرنيو يرغلګرو او د لس فيصده افغاني ملي خاينانو او هيواد پلورونکو د شخصي ګټو د تامين او هوا او هوس لپاره...؟! که د اروپا په يوه هيواد کې د افغانستان په شان جګړه روانه وي، آيا هغه هيواد کې به ټولټاکنې دوی وکړي او که لومړی به هرومرو جګړه ختموي...؟!

د ۲۰۰۶ م کال د دسمبر په مياشت کې يو افغاني کنفرانس د هيواد د روان مصيبت د چارې لپاره د هالند په هيواد کې جوړ شوی وه او د اعليحضرت مرحوم غازي امان الله خان زوی عالي جناب ډاکټر احسان الله خان (د افغانستان) هم پکښې ګډون وال او حاضر وه، ما دې غونډې ته لاندې وړانديز تقديم کړ:

درنو ورونو او خويندو! زمونږ ګران خو وران افغانستان اوس اوس په يو ډير کړکيچن او لوی مصيبت کې قرار لري. سره د دې چې د نوي دولت څخه چې د بن د غونډې په نتيجه کې په هيواد کې ځای پر ځای شو، دغه ده پنځه کاله تير شول ليکن په وطن کې مطمئن امنيت نشته او د نوي په سلو کې د افغانستان د خلکو د ژوند په بد حالت کې او د هيواد راتلوونکې هم مجهوله ده. له بلې خوا زمونږ ملی يووالی ته بالخصوص د غوايی د کودتا څخه پس لوی زيان رسيدلی، نړيوال زبرځواکونه او زمونږ ګاونډي هيوادونو زمونږ ملي ګټې تر پښو لاندې کړي او په يو اړخيز ډول يواځې پر خپلو ګټو پسې روان دي. افغانان توهين شوي او ظلم او تيری پرې شوئ دئ. په داسې بحراني وضعيت کې مونږ افغانان د يوه ملي مشر او ملي زعامت د کمبود سره چې د هيواد مطلق اکثريت پرې راټول شي، مخامخ يو. د پورتني لنډې تبصرې پر بنسټ زه دغه وړانديز کوم:

د افغانستان اوسنی دولت يو مريض، معيوب او ناکام سياسي جوړښت او په هيڅ ډول د ملت استاذی نه دی، بناءً د اوسنی ولسي جرګې او مشرانو جرګې او قضاء په ګډون بايد ساقط شي. په عين وخت کې دې د افغانانو يو لويه جرګه په پلازميني کابل کې جوړه شي. دې لويې جرګې ته دې داسې افغاني استاذي راشي، چې خلکو ته يې خپل امتحان ورکړی وي. هيڅ ملي خاين او جنګي مجرم ته بايد په جرګه کې د ګډون اجازه ورنکړای شي. زمونږ د ملي اتحاد او اتفاق د بيرته اعادې لپاره دې د جرګې مشرتوب د افغانستان د نامي پاچا اعليحضرت مرحوم غازي امان الله خان د زوی پاچا زوی ډاکټر احسان الله خان ته ور وسپارل شي. د جرګې امنيتي او لوژستيکي مسايل دې د ذيدخلو هيوادو پر غاړه وي او دا پدې خاطر چې د افغانستان د اوسني مصيبت يوه مولده خوا همدا بهرنيان دي.جرګه دې يو

موقتي حکومتي ادارجوړه او بیړنۍ حالت دې په هیواد کې اعلان کړي.دا اداره دې ډېرۍ انرژي د هیواد هر اړخیز امنیت ته وقف کړي. د اوسني دولت د وسله والو مخالفینو سره باید واضح او عادلانه خبرې وکړي او د هغوی غوښتنو ته دې غوږ ونیسي. او زمینه دې یوه واقعا ملي او د خلکو د آرزو سره سم دولت رامنځ ته کولو ته برابره کړي. همدا لویه جرګه دې د بهرنیو پوځی قواوو د بیرته وتلو لپاره یو وخت ویش جوړ او ملت ته دې اعلان کړي.
زما په دغه وړاندیز دې د کنفرانس غړي رایې ورکړي، د اکثریت د ګټلو په صورت کی دې دا وړاندیز د ملګرو ملتونو اداري او اروپایی اتحادیی ته واستول شي.

## **متن دری پیشنهاد من:**

برادران و خواهران محترم! کشور ما افغانستان عزیز اما ویران شده فعلاً در حالت و یا وضعیت نهایت نا گوارقرار داشته، اینک با وجودی که از استقرار دولت جدید بعد از کنفرانس بن مدت پنج سال سپری شد، لاکن در کشور امنیت مطمئن و سرتاسری مستقر نشده و هم سطح زندگی اکثریت قریب به نود فیصد مردم شریف افغانستان در وضعیت ناګوار و آیندهٔ مجهول قرار دارد. از جانب دیگر شیرازهٔ وحدت ملی و تفاهم اجتماع افغانی بالخصوص بعد از وقوع کودتای ثور ۱۳۵۷ هجری صدمهٔ بزرگ دیده ، قدرت های مداخله گر جهانی و کشور های همسایه صرف نظر از منافع ملی ما افغانها فقط به منفعت های یک جانبه خویش اندیشیده و ملت تحت ظلم ما همیشه مورد تحقیر و تجاوز بوده است. در چنین اوضاع بحرانی افغانها سخت دچار کمبود یک رهبر و یا مشر قابل قبول برای اکثریت مطلق مردم افغانستان هم میباشند. بناءً با در نظر داشت مقدمهٔ کوتاه پیشنهاد ذیل را ارائه میکنم:
دولت فعلی مستقر در افغانستان یک ساختار سیاسی مریض، معیوب و ناکام بوده و نمایندهٔ ملت افغان نیست، بناءً به شمول ولسی جرگه و مشرانو جرگه و قضاء باید ساقط شود. در عین جریان یک لویه جرگهٔ مرکب از افغانهای امتحان شده نزد ملت در پایتخت کابل دعوت و ترتیب شود. هیچ خاین و مجرم ملی در کار این جرگه راه داده نشود. بخاطر تامین اتحاد و اتفاق ملی ازهم پاشیدهٔ ما افغانها، ریاست این مجلس به جناب عالی شهزاده داکتر احسان الله خان (د افغانستان) فرزند پادشاه نامی کشور مرحوم اعلیحضرت امان الله خان غازی سپرده شود. مسایل امنیتی و لوژستیکی این جرگه را باید ممالک ذیدخل در قضایای افغانستان بدوش بگیرند و آن بخاطری که مولد این حالت ناهنجار فعلی کشور ما همین ممالک خارجی هم میباشند. اعضای این مجلس یک ادارهٔ موقت را تأسیس نموده و حالت اضطرار را اعلان کرده و نهایت انرژی خود را به تأمین امنیت مکمل در مملکت معطوف ساخته، با مخالفین مسلح دولت فعلی مذاکرات واضح و صریح و عادلانه را صورت دهد. و به خواسته های ایشان توجه نماید.اعضای این لویه جرگه با قوای خارجی موجود در کشور مذاکرات نهایی را انجام داده و جدول زمانی خروج این قواء را ترتیب نموده و ملت افغانستان در جریان گذاشته شود. بالای این پیشنهاد من اعضای کنفرانس رای گیری نموده، در صورت قبول اکثریت، محتوای آن به سازمان ملل متحد و اتحادیهٔ اروپایی ارسال شود.

پاچا زوی ډاکټر احسان الله خان د سر په اشاره زما څخه مننه وکړه او کوم اعتراض یې نه لاره. په هر حال ، زما دې وړاندیز ته یو شمیر افغانانو تود هر کلی ووایه، لیکن په کل کی بی اهمیته پاتی شو. بعضی ډاریدل، بعضی دوه زړه ول او بعضی مخالف او بعضی بی علاقی او بی تفاوته...!!
اوس چی له هغه وخته پوره دوه کاله تیریږي، که د ګران افغانستان اوضاع ته نظر واچوو، حالت نور هم خراب دی. نن په هیواد کی په شلو ولایتونو کی پوره امن خو څه کوي، جګړه روانه ده او د دې جګړې اصلی تاوان او بار بر ناحقه د افغانستان خوار ولس په اوږو وړي. هیواد اشغال او مونږ سیاسی او هم اقتصادی استقلال نلرو. اوس باید ټولټاکنې وشي او د دې ټاکنو لګښت هم بهرنی هیوادونه ورکوي. آیا پداسی اوضاع کی د دې شلو ولایتو افغانان به څنګه په عادلانه ډول وګړای شي، په ټاکنو کی ګډون وکړي؟؟؟ **زه اوس هم وایم چی نه!! دا لړی دې ودرول شي. بی له ځنډه دې ترتیبات یوې لویې جرګې جوړولو ته ونیول شي.** دې لویې جرګې ته دې د وسله والو مخالفینو مشران، ملا محمد عمر اخوند او ګلبدین حکمتیار راوبلل شي. د هغوی نومونه دې د تور لست څخه وایستل شي او مناسب اطمینان دې ورکړل شي. څه بده خبره به وي که اوس هم د دې لویې جرګې افتخاري مشرتوب پاچا زوی ډاکټر احسان الله خان ورکړل شي. جرګه دې په یوه موقت حکومت یا اداري سره اتفاق شي. کیدلای شي دا موقت حکومت تر دوو یا درې کالو پورې دوام وکړي او داسی یو سیاسی سیستم دې افغانستان ته جوړ کړي، چې د هیواد ډیری ولس پرې خوښ وي. د جرګې غړي دې د بهرنیو پوځي قواوو د بیرته وتلو لپاره زمانی جدول جوړ کړي او ملت ته اطمینان ورکړي. پدې توګه به دا کرغیړنه جګړه ختمه شي او دا ډیر ځوریدلی ولس به د مصیبت له کندې څخه راووځي او د راحت سا به واخلي.په غیر د دې صورت کی به یو ډول برګې ټولټاکنې وشي او یوه بشره به د هیواد ولسمشر شي، لیکن جګړه به روانه وي او دا هردم شهید ولس به بر ناحقه خپلې وینې ورکوي...؟!
دا ول زما عرایض، باقي لوی الله ښه عالم دئ.

( پای )